مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۴/۱۹

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۶۸ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **پروان:** ۰ – ۳۵، ۱۰ – ۶۹ :دا د افغانستان د مرکز په ختیځ کې یو ولایت دی چې ۱۱۳۶۷ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمــېــر ئـي چې بزګري پرګني دي د ۲۸۱۹۴۱ تر ۳۰۵۰۳۱ تـنو تر منځ اټکل سوی دی. دا ولایت له لویدیځ لوري له بامیانو، له شمال لوري له «بګ کلان» [1] (بغلان – ژ) او تخار، له ختیځ لوري له لغمان او له کابل او له سویل لوري له کابل او میدان(وردک) سره کربنه لري. د پروان په ولایت کې د کاپیسا پخوانی ولایت هم شامل دی. پروان (او کاپیسا) په دغو ولسوالیو او ویشل سوی دی:

| | | |
|---|---|---|
| غوربند | جبل السراج | بګرام |
| محمود راقي | کوهستان | پنجشیر |
| نجراب | تګاب | |

او په دغو علاقه داریو ویشل سوی دی:

| | | |
|---|---|---|
| شیخ علي | شینوار | کوهٔ صافي |
| اله سای | دُرنامه | پنجشیر ۱ ـ ۲ |

[1] -Bag Klan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د پروان د ولایت مرکز د چاریکارو ښارګوټی دی. د ولسوالیو د لیست لپاره د کرهنې او اوبو لګولو د وزارت د احصائیې د ریاست شپږ جدولونه په راتلونکو پاڼې کې وګورئ. ﴿لودویګ آدمک﴾

* **پساتیان:** [2]: ۲۱ – ۳۴، ۴۰ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کې د نرخ د لویدیځ په نېـږدې ۱۰ مایلۍ کې د میدان د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې یو کلی دی.


* **پَســدِه**: [3]: ۵۱ -، ۳۴، ۴۴ – ۶۸ «ن»: دا د پروان په ولایت کې د «دهانـۀ خربید» [4] په سویل کې د غوربند د سیند د یوې څانګې په اوږدو کې یو کلی دی.

* **پَـشَـد**: [5]: ۴۳ – ۳۴، ۱ – ۷۱ «ن»: دا د کونړ په ولایت کې د «نرنګ» [6] د سویل لویدیځ په نېـږدې ۴ مایلۍ کې د کونړ د سیند په اوږدو کې یو کلی دی.

---

[2] -PASATAN
[3] -PASDEH
[4] -Dahana Kharbid
[5] -PASHAD
[6] -Narang


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




| د کروندګرو وګړو او تر کښت لاندې ځمکو اټکل | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | کلي | کروندګر وګړي | ځمکوال | تر کښت لاندې ځمکې په جریب | | | ترکښت لاندې ځمکې په هکتار | | |
| | | | | خړوبه | للمه | ټولټال | خړوبه | للمه | ټولټال |
| بګرام | ۵۲ | ۸۴۴۳۰ | ۱۱۵۳۰ | ۲۵۰۰۰ | ۵۵۰۰۰ | ۸۰۰۰۰ | ۵۰۰۰ | ۱۱۰۰۰ | ۱۶۰۰۰ |
| جبل السراج | ۸۶ | ۷۹۳۴۰ | ۷۶۷۰ | ۳۹۳۹۰ | — | ۳۹۳۹۰ | ۷۸۷۸ | — | ۷۸۷۸ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| چاریکار | ۳۳ | ۶۱۸۶۰ | ۱۲۶۵۰ | ۳۶۳۹۰ | ۴۲۳۰ | ۴۰۶۲۰ | ۷۲۷۸ | ۸۴۶ | ۸۱۲۴ |
| سرخ پارسا | ۳۷ | ۵۸۰۵۰ | ۷۹۹۰ | ۲۶۶۸۰ | — | ۲۶۶۸۰ | ۵۳۳۶ | — | ۵۳۳۶ |
| غوربند | ۳۷ | ۸۶۳۰۰ | ۱۱۸۵۰ | ۲۱۵۳۰ | ۳۴۰۰ | ۲۴۹۳۰ | ۴۳۰۶ | ۶۸۰ | ۴۹۸۶ |
| سالنگ | ۲۳ | ۴۰۴۶۰ | ۴۰۴۰ | ۷۰۲۰ | — | ۷۰۲۰ | ۱۴۰۴ | — | ۱۴۰۴ |
| شینواري | ۱۳ | ۳۱۳۴۰ | ۳۹۴۰ | ۱۲۳۶۰ | ۱۱۵۰ | ۱۳۵۱۰ | ۲۴۷۲ | ۲۳۰ | ۲۷۰۲ |
| شیخ علي | ۲۷ | ۳۳۱۶۰ | ۱۸۶۰ | ۵۴۹۰ | ۳۱۵۰ | ۸۶۴۰ | ۱۰۹۸ | ۶۳۰ | ۱۷۲۸ |
| کوه صافي | ۳۷ | ۱۸۶۹۰ | ۲۱۷۰ | ۱۸۴۰ | ۱۰۳۰ | ۲۸۷۰ | ۳۶۸ | ۲۰۶ | ۵۷۴ |
| ټولټال | ۳۴۵ | ۴۹۳۷۲۰ | ۶۳۷۰۰ | ۱۷۵۷۰۰ | ۶۷۹۶۰ | ۲۴۳۶۶۰ | ۳۵۱۴۰ | ۱۳۵۹۲ | ۴۸۷۳۲ |

| | د مالدارۍ احصائـیوي اټکل په ولسوالي او علاقه دارۍ | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | پسونه | قره قل پسونه | وزې | غواګاني | میښي | اوښان | آسونه | خرونه | کچرې | چرګان |
| بګرام | ۶۶۰۰ | — | ۱۹۸۰ | ۹۸۸۰ | — | ۲۷۰ | ۷۰ | ۲۱۳۰ | — | ۲۹۹۲۰ |
| جبل السراج | ۵۴۲۰ | — | ۲۲۶۰ | ۱۴۴۷۰ | — | — | ۵۰ | ۱۰۷۰ | — | ۴۴۱۲۰ |
| چاریکار | ۲۶۷۰ | — | ۱۸۵۰ | ۹۷۴۰ | — | — | ۴۰ | ۳۳۰۰ | — | ۳۲۱۷۰ |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سرخ پارسا | ۱۵۱۲۰ | — | ۷۵۵۰ | ۷۱۲۰ | — | — | ۱۰ | ۲۱۴۰ | — | ۲۰۷۷۰ |
| غوربند | ۱۱۰۵۰ | — | ۷۳۹۰ | ۵۲۸۰ | — | — | ۲۰ | ۴۹۴۰ | — | ۱۸۷۰۰ |
| سالنگ | ۷۳۸۰ | — | ۹۰۷۰ | ۱۱۸۰ | — | — | ۱۷۰ | ۹۱۰ | — | ۹۸۹۰ |
| شینواري | ۱۴۶۰۰ | — | ۸۸۱۰ | ۳۸۴۰ | — | ۷۰ | ۷۰ | ۱۴۰۰ | — | ۱۱۴۴۰ |
| شیخ علي | ۱۴۰۰۰ | — | ۱۶۷۴۰ | ۶۳۰۰ | — | — | ۴۰ | ۱۶۹۰ | — | ۹۹۰۰ |
| کوهٔ صافي | ۳۵۰ | — | ۱۲۳۷۰ | ۳۱۰۰ | — | ۱۳۰ | ۲۰ | ۱۴۳۰ | — | ۱۰۹۱۰ |
| تولټال | ۷۷۱۹۰ | — | ۶۸۰۲۰ | ۶۰۹۱۰ | — | ۴۷۰ | ۴۹۰ | ۱۹۰۱۰ | — | ۱۸۷۸۲۰ |

**د کرنیزو محصولاتو تولید په کابلي سیر**

| | غلات | | | سابـهٔ | نور محصولات | | میوی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | خروبه | للمه | تولټال | | صنعتي محصولات | نور مؤقت محصولات | |
| بګرام | ۱۲۳۸۵۰۰ | ۳۲۲۳۰۰ | ۱۵۶۰۸۲۰ | ۸۰۱۰۰۰ | ۳۸۵۰۰ | ۲۷۵۰۰۰ | ۱۸۹۶۰۰۰ |
| جبل السراج | ۱۵۲۴۵۰۰ | — | ۱۵۲۴۵۰۰ | ۹۴۵۰۰۰ | ۴۵۵۰۰ | ۷۸۰۰۰۰ | ۱۵۲۶۰۰۰ |
| چاریکار | ۷۶۲۰۰۰ | ۲۸۸۰۰ | ۷۹۰۸۰۰ | ۲۳۷۳۷۵۰ | ۹۸۰۰۰ | ۶۰۰۰۰۰ | ۲۶۸۲۰۰۰ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سرخ پارسا | ۱۱۴۳۵۰۰ | — | ۱۱۴۳۵۰۰ | ۴۹۷۲۵۰ | — | ۶۶۷۵۰۰ | ۱۳۰۸۰۰۰ |
| غوربند | ۹۵۲۵۰۰ | ۲۴۰۰۰ | ۹۷۶۵۰۰ | ۲۳۶۵۰۰ | — | ۵۴۲۵۰۰ | ۱۳۹۰۰۰۰ |
| سالنگ | ۲۹۱۰۰۰ | — | ۲۹۱۰۰۰ | — | — | ۳۸۰۰۰۰ | ۴۳۸۰۰۰ |
| شينواري | ۵۷۱۵۰۰ | ۷۲۰۰ | ۵۷۸۷۰۰ | ۳۲۶۲۵۰ | — | ۲۲۷۵۰۰ | ۳۳۸۰۰۰ |
| شيخ علي | ۲۸۶۰۰۰ | ۱۸۰۰۰ | ۳۰۴۰۰۰ | ۱۰۸۰۰۰ | — | ۲۴۷۵۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ |
| کوه صافي | ۱۴۵۵۰۰ | ۶۴۸۰ | ۱۵۱۹۸۰ | ۳۸۲۵۰ | — | ۱۴۵۰۰۰ | ۱۴۶۰۰۰ |
| ټولټال | ۶۹۱۵۰۰۰ | ۴۰۶۸۰۰ | ۷۳۲۱۸۰۰ | ۵۲۲۶۰۰۰ | ۱۸۲۰۰۰ | ۳۸۶۵۰۰۰ | ۹۹۲۴۰۰۰ |

| | خړوبي ځمکي او د خړوبولو سرچيني ئـي | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ساحه په جريب | | | | | د سرچينو شمــېـر | | | | د اوبو ژرندي |
| | نهرونه | چيني | کاريزونه | ځاهان | ټولټال | نهرونه | چيني | کاريزونه | ځاهان | |
| بگرام | ۱۹۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ۴۰۰۰ | — | ۲۵۰۰۰ | ۴ | ۳ | ۱۵ | — | ۱۲ |
| جبل السراج | ۳۸۴۶۰ | ۹۳۰ | — | — | ۳۹۳۹۰ | ۳۰ | ۳ | — | — | ۱۲۲ |
| چاریکار | ۲۵۳۲۰ | ۱۱۰۷۰ | — | — | ۳۶۳۹۰ | ۸ | ۷ | — | — | ۲۰۳ |
| سرخ پارسا | ۱۳۶۸۰ | ۱۲۶۴۰ | ۳۶۰ | — | ۲۶۶۸۰ | ۲۳ | ۳۳ | ۴ | — | ۸۴ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| غوربند | ۲۰۵۸۰ | ۹۵۰ | — | — | ۲۱۵۳۰ | ۳۲ | ۵ | — | — | ۱۱۹ |
| سالنګ | ۴۰۲۰ | ۳۰۰۰ | — | — | ۷۰۲۰ | ۳ | ۸ | — | — | ۸۶ |
| شینواري | ۳۸۸۰ | ۱۶۱۰ | — | — | ۵۴۹۰ | ۱۲ | ۱۰ | — | — | ۵۳ |
| شیخ علي | ۹۸۹۰ | ۲۴۷۰ | — | — | ۱۲۳۶۰ | ۸ | ۴ | — | — | ۴۳ |
| کوهٔ صافي | — | ۹۸۰ | ۸۶۰ | — | ۱۸۴۰ | — | ۲۰ | ۱۵ | — | ۳۴ |
| ټولټال | ۱۳۴۸۳۰ | ۳۵۶۵۰ | ۵۲۲۰ | — | ۱۷۵۷۰۰ | ۱۲۰ | ۹۳ | ۳۴ | — | ۷۵۶ |

**د کښت وړ ځمکو ټولټال د محصول پر بنسټ په کابلي سیر**

| | غلات | | | سابهٔ | صنعتي محصولات | نور محصولات | میوې | د کښت وړ ځمکو ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | خروبه | للمه | ټولټال | | | | | |
| بګرام | ۲۴۷۷۰ | ۲۶۸۶۰ | ۵۱۶۳۰ | ۳۵۶۰ | ۱۱۰۰ | ۱۱۰۰ | ۹۴۸۰ | ۶۶۸۷۰ |
| جبل السراج | ۳۰۴۹۰ | — | ۳۰۴۹۰ | ۴۲۰۰ | ۱۳۰۰ | ۳۱۲۰ | ۷۶۳۰ | ۴۶۷۴۰ |
| چاریکار | ۱۵۲۴۰ | ۲۴۰۰ | ۱۷۶۴۰ | ۱۰۵۵۰ | ۲۸۰۰ | ۲۴۰۰ | ۱۳۴۱۰ | ۴۶۸۰۰ |
| سرخ پارسا | ۲۲۸۷۰ | — | ۲۲۸۷۰ | ۲۲۱۰ | — | ۲۶۷۰ | ۶۵۴۰ | ۳۴۲۹۰ |
| غوربند | ۱۹۰۵۰ | ۲۰۰۰ | ۲۱۰۵۰ | ۱۹۴۰ | — | ۲۱۷۰ | ۶۹۵۰ | ۳۲۱۱۰ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سالنګ | ۵۸۲۰ | — | ۵۸۲۰ | — | — | ۱۵۲۰ | ۲۱۹۰ | ۹۵۳۰ |
| شینواري | ۱۱۴۳۰ | ۶۰۰ | ۱۲۰۳۰ | ۱۴۵۰ | — | ۹۱۰ | ۱۶۹۰ | ۱۶۰۸۰ |
| شیخ علي | ۵۷۲۰ | ۱۵۰۰ | ۷۲۲۰ | ۴۸۰ | — | ۹۹۰ | ۱۰۰۰ | ۹۶۹۰ |
| کوهٔ صافي | ۲۹۱۰ | ۵۴۰ | ۳۴۵۰ | ۱۷۰ | — | ۵۸۰ | ۷۳۰ | ۴۹۳۰ |
| ټولټال | ۱۳۸۳۰۰ | ۳۳۹۰۰ | ۱۷۲۲۰۰ | ۲۴۵۶۰ | ۵۲۰۰ | ۱۵۴۶۰ | ۴۹۶۲۰ | ۲۶۷۰۴۰ |

| د کښت وړ ځمکو ټولټال په کابلي جریب | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | ټولټال | پووندي | ځنګلونه | ترکښت لاندې ځمکې | هغه ځمکې چې يو کال کرل کېږي او بل کال نهٔ کرل کېږي |
| بګرام | ۱۳۳۳۰۰ | ۵۳۳۰۰ | — | ۸۰۰۰۰ | ۲۵۳۵۰ |
| جبل السراج | ۴۲۹۶۰ | ۳۵۷۰ | — | ۳۹۳۹۰ | ۱۲۲۹۰ |
| چاریکار | ۴۱۹۶۰ | ۱۳۴۰ | — | ۴۰۶۲۰ | ۹۸۴۰ |
| سرخ پارسا | ۵۳۳۳۰ | ۲۵۳۴۰ | ۱۳۱۰ | ۲۶۶۸۰ | ۶۳۴۰ |
| غوربند | ۳۴۰۶۰ | ۹۱۳۰ | — | ۲۴۳۹۰ | ۴۴۲۰ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| سالنګ | ۱۲۵۲۰ | ۵۵۰۰ | — | ۷۰۲۰ | ۳۶۸۰ |
| شینواري | ۲۴۴۶۰ | ۱۰۹۵۰ | — | ۱۳۵۱۰ | ۳۲۵۰ |
| شیخ علي | ۳۶۲۳۰ | ۲۶۵۰۰ | ۱۰۹۰ | ۸۶۴۰ | ۲۰۸۰ |
| کوهٔ صافي | ۳۱۴۰ | ۲۷۰ | — | ۲۸۷۰ | ۱۷۹۰ |
| ټولټال | ۳۸۱۹۶۰ | ۱۳۵۹۰۰ | ۲۴۰۰ | ۲۴۳۶۶۰ | ۶۹۰۴۰ |

**پروان: یا: چاریکار**: ۱۵ – ۳۵، ۳۰ – ۶۹ «الف»: دا د سالنګ د منځغري په خولـهٔ کې د کابل د شمال په ۴۹ مایلۍ کې یو لوی کلی دی. دا په حقیقت کې له دوه وو کلیو څخه جوړ یو ځای دی او د هغـهٔ سیند په دواړو غاړو کې واقع دي چې د باجګاه له کوتل څخه مخ پر سویل راکوزېـږي. په دغو دواړو کلیو کې لږ تر لږه ۱۵۰۰ کورونه دي. یاد سوی سیند د تـــتم درې د سویل په شاوخوا ۴ مایلۍ کې د غوربند له سیند سره یو ځای کـېـږي. د پروان دره برتانوي ځواک ته یو بد شهرت لري؛ د ۱۸۴۰ز کال د نوامبر د میاشتې په دوهمې نیټې د جنرال سیل ځواک د دوست محمد د لښکر له پاتې شونو سره مخامخ سو، دلته جنرال سیل تر شدید فشار لاندې راغی او له افغان جنګیالیو سره په مخامخ جګړې کې ښکیل سو. «تورن فریزر او تورن پونسن بای» [7] او «بریدمن کریسپین او براد فوټ» [8] او «ډاکټر لارډ» له ځانونو بې سارې زړورتیا وښودله خو تر لاس لاندې پرسونل د دوی ملاتړ ونـهٔ کړ، دا کسان وتښتیدل او د دښمن د سپارهٔ ځواک د جنګیالیو له پلوه تعقیب سول. تورن فریزر، پونسن بای شدیداً ټپیان سول او بریدمن کریسپین او بریدمن براد فوټ او ډاکټر لارډ ووژل سول. «وود، کې، سعیدالله» پروان اوس د یوهٔ ولایت نوم دی، د پروان کلی اوس د چاریکار په نوم یادېـږي. «لودویګ آدمک»

**پشه ګي**: [9]: دا د کافرانو یوه قبیـله ده چې پخوا د «سیکال» [10] په درې کې اوسیدل، د دې درې یوې برخې کې د «دومیان»، «کندله»، «پارام دول»، او «تارو» [11] لوی لوی کلي دي او تر اوسه ئـې همدا ځایونه ساتلي دي. د دغو ځایونو خلک

[7] -Captains Fraser and Ponsonby
[8] -Lieutenants Crispin and Broadfoot, and Dr. Lord
[9] -PASHAGAI
[10] -Saikal
[11] -Dumian, Kandla, Paramdol, and Taru


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

اوس د اسلام په دین مشرف سوي دي. د قبـیـلـي پاتي برخه چي په خپل پخواني دین پاتي ده یو شمـــېـــر ئـي د سیاه پوشانو په سیمي کي او یو شمـــېـــر ئـي د «مل» [12] د دري په شمال کي استوګنه ده. (راورتي)

**پشه یي:** [13]: دا یو قوم دی چي پخوا ئـي شمـــېـــر زښت ډېـــر وو خو اوس ئـي شمـــېـــر نامشخصه او تقریباً هیر سوی دی. لیچ وايي چي (پشه ئـیان د «منډال»، «چیتلا»، «پارینه»، «کندي» او « سوا کلمن» [14] په سیمو کي استوګن دي). میسن وايي چي (مورږ وتوانیدلو چي په دغـهٔ نوم د قوم د خلکو څرک له تول پنجشیر څخه نیولي تر چترال پوري څرګند کړو. په نجراب کي لا تراوسه یو شمـــېـــر پشه یِي کورنی سته؛ په لغمان کي د «کوهٔ کرنج» [15] په لمن کي یو کلی دی چي د پشه یي نوم ئـي لا تر اوسه ساتلی دی؛ په کونړ کي د «پـَشـَـت Pashat » اوسني کلي لا تر اوسه د پشه یي نژاد نومیزه یا اسمي بڼه ساتلې ده؛ همدا شان په باجوړ کي د «پش ګرام Pashgram » کلي د پشه یي نوم ساتلی دی. د پنجشیر، نجراب استوګن وګړي سره له دې چي ځانونه تاجیکان بولي خو په پشه یي ژبي خبري کوي او ښايي بې دلیله ګومان وکړو چي دوی به په اصل کي د پشه ئـیانو له ښنته وي؛ همدا ملاحظه د صافي، تګاو او درهٔ نور او نورو او هم د لغمان وګړو ته اطلاق کیدای سي. (لیچ، میسن یاد داشت: د اندراب په دري کي هم یو شمـــېـــر خلک چي ځانونه پشه ئـیان بولي سته.

د ژباړونکي یادونه: د پشه یي نوم د افغانستان په دغو ځایونو کي هم دی:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| پشه یي | کابل | قره باغ | پشه یي | کاپیسا | نجراب |
| چهل باغ توی پشه یي ۱ | غزني | جغتو | دِهٔ پشه یي | بغلان | خوست و فرنګ |
| پشه یي۱ | کاپیسا | نجراب | ده پشه یي | لغمان | مهترلام |
| پشه یي | کابل | پغمان | پشه یي غر | هلمند | نو زاد |
| چاراهي پشه یي | بادغیس | قادس | پشه یي | بغلان | دهٔ صالح |
| پشه یي۲ | کاپیسا | نجراب | پشه یي | کاپیسا | محمود راقي |
| کوتل ِ پشه یي | کابل | پغمان | چهل باغ توی پشه یي ۲ | غزني | جغتو |
| کوهٔ پشه یي | کابل | پغمان | درهٔ پشه یي | بغلان | |
| جر پشه یي | هلمند | | ناوهٔ پشه یي | غزني | مالستان |
| پشه یي | بغلان | خوست و فرنګ | | | |

**پشه یي:** ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د الیشنګ د سیند د کیني غاړي په اوږدو کي په لغمان کي یو کلی دی چي د الینګار له سیند سره د یو ځای کیدلو له ټکي ۲/۱ ـــ ۱ مایل پورته موقعیت لري. دا کلی له لاندنیو کوچنیو کلیو څخه جوړ سوی دی :

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | دِهٔ ملوخ | Deh -i- Malokh |
| ۲ | دِهٔ هاشم | |
| ۳ | باندِهٔ فقیران | |

[12] -Mel
[13] -PASHAI
[14] -Mundal," "Chitela," "Parina," "Kundi," and "Seva Kulman."
[15] -Koh -i- Karinj


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د دغو کلیو استوګن وګړي تاجیکان دي. ﴿واربرتن﴾

**پشه یي:** دا د جاغوري هزاره ګانو یوه فرعي څانګه ده.

* **پشه یي:** ۳۴ ــ ۳۴، ۵۵ ــ ۶۸ «ن»: دا د کابل په ولایت کې د پغمان د سویل لویدیځ؟ په څو مایلۍ کې یو کلی دی. په دې نوم نور ځایونه: د تګاب د یوې څانګې پر غاړې، د کاپیسا په ولایت کې د نجراب د شمال ختیځ په نیــږدې ۱۰ مایلۍ کې په ۵۹ ــ ۳۴، ۴۲ ــ ۶۹ «ن» کې؛ د کاپیسا په ولایت کې د ریزه کوهستان په سویل لویدیځ کې په ۴ ــ ۳۵، ۲۴ ــ ۶۹ «ن» کې؛ د کاپیسا په ولایت کې د بازار بدخشي په سویل ختیځ کې د تګاب د سیند په اوږدو کې په ۱ ــ ۳۵، ۳۷ ــ ۶۹ «ن» کې؛ د کاپیسا په ولایت کې د لوکه خیلو په لویدیځ کې د تګاب د سیند په اوږدو کې په ۱ ــ ۳۵، ۴۲ ــ ۶۹ «ن» کې.

**پشه ئـیان:** پشیان: [16] :دا د چاریکارو په ختیځ کې یو کلی دی چې د تاجیکانو ۵۰۰ کورنۍ په کې میشتې دي. ﴿شهزاده تیموس﴾

**پــَشـَــک**: [17]: دا د دایزنګي د لال په ولسوالي کې یو کلی دی.

**پشکري:** [18]: ۴۹ ــ ۳۴، ۴۰ ــ ۶۹ «ن»: دا د کاپیسا په ولایت کې د تګاب د سویل په شاوخوا ۳ مایلۍ کې د تګاب د سیند په اوږدو کې یو کلی دی.

**پشر:** [19]: دا په آب دره کې یو کلی دی.

**پــَشــَد:** یا: پــَشــَت : [20]: ۴۳ ــ ۳۴، ۱ ــ ۷۱ «ن»: دا د کونړ په ولسوالي کې یو ډېــر لرغون ښارګوټی دی چې د کونړ د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې له جلال آباد څخه شاوخوا ۴۳ مایله لیرې واقع دی. پشد د کونړ د پادشاهانو استوګن ځای وو؛ سره له دې چې د دغو شاهانو سلطـنـتي مانۍ او بڼ ویجاړ سوی دی خو ښښې او کنډوالې ئـې لا تر اوسه پورې سته. دلته یوه جاله سته چې د پشد په شمالي منتهی الیه کې د ﴿کوټ ګې﴾ [21] د کلیو خلک د سیند بلې غاړې ته لېــږدوي. له پشد څخه ظاهراً د ﴿کابل څپر﴾ [22] په غرنۍ لړۍ کې دوه کوتلونه تللي دي. دلته پشد کې د ۱۰۰ تنو خاصه دارانو یو ټولی ځای پر ځای دی.

د افغان لومړۍ جګړې په لړ کې پشد ته د ډګروال آرچردز تر بولنې لاندې یو ګډ ځواک ولېــږل سو چې پشد اشغال کړي. بریدمن پیګو او بریدمن تایلر دواړو له ځانه میرانه او زړورتیا وښودله؛ دوی د پشد د دروازې د منفجرولو په هڅې کې زړورتیا او میرانه وښودله خو ﴿د رطوبت له کبله﴾ د دوی دا هڅه بریالۍ نـهٔ وه او سیدانو له لږ ځنډ وروسته د پشت کلا پرېښودله. د برتانیې د خوا تلفات ۶۵ تنه ټپیان او وژل سوي ول. ﴿آرچرد، ملا، کولدستریم، آی. بي. سي﴾

---

16 -PASHAIAN
17-PASHAK
18 -PASHAKARI
19 -PASHAR
20 -PASHAT Or PASHAD
21 -Kotgai villages
22 -Kabul Sapar range


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**پشه**: [23]: دا د جاغوري هزاره ګانو په سیمې کې یو ځای دی.

**پاش غور**: یا: پوخ: [24]: ۲۴ – ۳۵، ۴۲ – ۶۹ „الف„: دا په پنجشیر کې د „رخې„ [25] په شمال ختیځ کې یو کلی دی.

* **پشکي**: [26]: دا د کونړ په ولایت کې د „اشتیوې„ „ایشتوي„ [27] د سویل په نېـږدې ۱۰ مایلی کې د „پارون په درې„ [28] کې یو کلی دی.

**پـــشکي ګرام**: پُشکي ګرام: [29]: ۲۰ – ۳۵، ۵۴ – ۷۰ „ن„: دا د کافرستان په درې کې د „پیچ„ یا „پریسن„ [30] د برخې „پارون„ [31] کې د سیاه پوشانو یو کلی دی. دا په دې درې کې یو ډېـر مهم کلی دی او د سیند له ښي غاړې څخه لږ واټن لیرې او له چغه سرای څخه نېـږدې ۷۱ مایله پورته واقع دی. د کلي په تقریباً مخالف لور کې د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې یوه تنګه دره ده چې د „برګل„ [32] په درې منتهي کـېـږي چې د „واري„ [33] د کلیو تر ټولو لوړ ټکی دی. دا کلی ۱۵۰ کورونه او یوه کلا لري؛ په دې کلا کې د پارون حاکم او ۴۰ خاصه داران اوسېـږي. دا کلا ۵۰ یارد مربع ده او په هرګوټ کې ئـې یو یو برج دی او ځلور دیوالونه ئـې تـېـرکښونه لري. کلی د غرهٔ په ډډې کې ودان سوی دی. له کلي پورته ډېـرې ښې او رنې او پریمانه اوبـهٔ بهېـږي. کورونه د چارتراش ګردیو له شاه تـېـرونو څخه جوړ سوي دي؛ د دغو شاه تـېـرونو د یو شمـېـر په منځونو کې معماري هم سوې ده او په یو شمـېـر کې ئـې هېڅ معماري نـهٔ ده سوې. دا کورونه د خپل جوړښت په بڼې کې د „باشګل„ [34] کورونو ته ورته دي خو دا کورونه د پریسن ګل د کورونو په شان یو عجیب ډول دود کښونه لري؛ دا کورونه برنډې نـهٔ لري. „پشلونه„ [35] د غرهٔ د ډډې په ټولې لمن کې په غیر عادي ډول راغونډ سوي دي. دلته د سیند له پاسه یو ډېـر ښـهٔ هوایي پل تـېـر سوی دی. د پلـهٔ منځنی ستنه له ډېرینې ناهموارې معمارۍ څخه جوړه ده چې د اوبو په منځ کې ولاړه ده. د کمپ وهلو لپاره ډېـر ښـهٔ ځای د سیند په کیڼې غاړه کې ده. دلته هر ډول اړتیا توکي تر لاسه کیدای سي. „رابرتسن، آی. بي. سي، پیرت„ اوسنۍ نقشې د „پشکي„ نوم ښیې. „لودویګ آدمک„

* **پشوک**: [36]: ۸ – ۳۵، ۳۴ – ۷۰ „ن„: دا د لغمان په ولایت کې „کوهٔ ولایتي„ ته نېـږدې د „کوله تان درې„ [37] په سرچینې یو کلی دی.

---

[23] -PASHE
[24] -PASHGHUR See PUKH
[25] -Rakha
[26] -PASHKI
[27] -Ashtiway (Eshtiwi)
[28] -Darrah -i- Paron
[29] -Ashtiway (Eshtiwi)
[30] -Pech, or Presun
[31] -Parun
[32] -Bargul
[33] -Wari
[34] -Bashgul
[35] -Pshals
[36] -PASHOK
[37] -Kolatan Darrah


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**پشتو**: [38]: دا د «پولادا هزاره گانو» [39] یوه فرعي څانگه ده.

**پسې کوه**: [40]: ۴۳ – ۳۳، ۷ – ۶۷ «ج»: دا په دایکنډي کې د «چمک» [41] په ختیځ کې یو غر دی.

* **پَسـقَـد**: [42]: – ۶۷ ، – ۲۰ «ن»: دا د غزني په لویدیځ کې د «لال چک» [43] په ختیځ کې «بغرا» [44] ته نېـږدې یو کلی دی.

* **پستي**: [45]: ۱۸ – ۳۴، ۱۳ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کې د خواجه بهادر د غرۀ په شمال کې د کوتـۀ اشرو/ عشرو د لویدیځ په څو مایلی کې یو کلی دی.

**پاته**: [46]: ۱۲ – ۳۳، ۱۵ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «مشکي» [47] په سویل ختیځ کې یو کلی دی.

* **پتک**: [48]: ۴۷ – ۳۳، ۳۹ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د «لژه د خوړ» [49] په اوږدو کې د کوروم له سیند سره د یو ځای کیدنې ټکي ته نېـږدې یو کلی دی.

* **پټان** : [50]: ۲۸ – ۳۳، ۵۴ – ۶۸ «ن» دا د پکتیا په ولایت کې د «کلالگو» [51] د شمال په نېـږدې ۳ مایلی کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د کورم د سیند په اوږدو کې «خرلاچي» [52] او د پاکستان پولې ته نېـږدې، د پکتیا په ولایت کې د څمکنیو د ختیځ په تقریباً ۸ مایلی کې په ۴۹ – ۳۳، ۵۷ – ۶۹ «ن» کې موقعیت لري.

**پټان**: ۳۶ – ۳۴، ۴۷ – ۷۰ «ج»: دا له جلال آباد څخه ۲/۱ – ۲۷ مایله لیرې د کونړ په درې کې یو کوچنی کلی دی. له دې کلي نیم مایل پورته یوه «پري» ؟ [53] ده چې غیر عادي بڼه لري یعنی دا چې پر سیند یو ستوغ ډبرین مهمیز راکوز سوی او پر څوکه باندې ئـې د خاصه دارانو یوه پوسته ده. دې سیمې کې دا ډول پوستې معمولاً له وچو ډبرو جوړ، سنگ کاري سوي مربع يې برجونه دي چې د دوه وو یا دریو فیټو په فواصلو کې د څانگو او لرگیو په مرستې متصل سوي دي. له همدې ټکي کوز یو هوایي پل «جاله چې په رسیو کار کوي» د سیند بلې غاړې ته تـېـر سوی دی. له «پټان پري» [54] څخه د سیند د پورې غاړې په مقابل لور کې د درې یو ډېـر ښـۀ منظر تر لاسه کـېـږي ؛ دلته د درې بستر د څو مایل مربعو

38 -PASHTO
39 -Polada Hazaras
40 -PAS -I -KOH
41 -Chakmak
42 -PASQAD
43 -Lalchak
44 -Bughra
45 -Pastai
46 -Pata
47 -Mushakai
48 -PATAK
49 -Lazha Khwar
50 -PATAN
51 -Kolalgu
52 -Kharlachi
53 - pari ښایي دا کومه سیمه ییزه اصطلاح وي. - ژ
54 -Patan Pari


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ارتوالي پراخېږي. د «کابل ځپر» [55] د غرنۍ لړۍ مهمیزونه د همدغهٔ بستر ملا او اړخونه جوړوي او ژبنته دېره کرهنه په کې سوې ده چې ځلور یا پینځه کلي لري او ټول ئې ظاهراً د کونړ په نوم یادېږي.کولد ستریم په دې نوم یو بل ځای په ۱۱ ــ ۳۳، ۴۸ ــ ۶۸ «الف» کې موقعیت لري.

نور بیا

**پــَـتـَـــنـی: پټانی: وگوړئ...**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، ځلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

55 -Kabul Sapar range




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ